

# اروابناد ډاکتر کبیر ستوری زموږ د هیواد د ادب او فرهنګ نومیالی او اکاډمیک شخصیت

د افغانستان ادبي، فرهنګي، ټولنیز او سیاسي حالات، او د انساني ژوند بیلا بیل اړخونه او د انسانانو ځلانده کارنامې، د پیښو او حوادثو تاریخ د میړنیو اتلانو د سربښندنود یادګار او د حماسو نه ډک تاریخ دی، چې دا تاریخ زموږ په هیواد کې د توري د شرنګ او د قلم د فضیلت او د کلام د عفت په وسیله کښل شوې دی.

د امیر کروړ جهان پهلوان لومړی تر لاسه شوی شعر، چې د وياړنې، سربښندنې او دتل پاتې اتلولۍ او ولولو نه ډک شعر دی، دا ثابتوي چې په رښتیا سره زموږ سرلوړي ادبي اوسیاسي تاریخ د توري او میړاني تاریخ دی. د بیلګې په توګه دامیر کروړ ددغې شعر څو بیتونه ګورو:

زه یم اتل پر دې نړۍ له ما اتل نشته — په هندو سندو پر تخار اوپر کابل نشته

بل په زابل نشته — له ما اتل نشته

دغې شعر د پښتو ژبه داسې مقام او معیار ته رسولې وه او ده چې د پښتو ادب تاریخ وربانديٍ وياړي. دا د هر پښتون او د هر ادب پوه ملي دنده ده چې زموږ د هیواد د با ارزښته آثارو په ساتلو کې له هیڅ ډوله ایثار او فداکارۍ څخه ډه ډه و نه کړي، خو له بده مرغه د تاریخ په اوږدو کې زموږ ټول ملي،

سیاسي، اجتماعي، ادبي او فرهنګي آثار او افتخارات د کورنیو او بهرنیو جګړو او د دشمنانو د توطئو، دسایسو او نورو عواملو پر بنسټ په ښکاره او پټه توګه لوټ شوي او غلا شوي دي. څوک یې د تعصب له مخې لوټوي او څوک یې د کلدارو، ډالرو او ریالو او نورو امتیازاتو په بدل خرڅوي.

په هره ټولنه کې د ژوند خواږه او ترخه حوادث، سیاسي کړکیچونه او ستونزې او د ټولنې نیمګړتیاوې او د ټولنیز مسایل دا ټول هغه فاکتورونه دي چې دهر ریښتیني انسان، او په ځانګړې توګه د لیکوال او شاعر په ذهن کې افکار، خیال، عواطف او احساسات راپاروي. دا پدیدې د لیکوال او شاعر په ذهن او روان کې په خیالونو، تصویرونو او سمبولونو تبدیلیږي، او دی کوشش کوي چې دا خیالونه او تصویرونه مخاطب ته داسې بیان کړي چې مخاطب عملا لکه د یو فلم په صحنه کې ولاړ کړي، او خپل لوستونکي او اوریدونکي داسې اعیار کړي چې ګویا دا پیښې ټولې د ده تر مخ تیرې شوې دي. دی کوشش کوي چې د دغو ستونزو د حل لاره ور په ګوته کړي.

هر څوک شاید شاعرانه احساس ولري خو هر څوک نشي کولای چې خپل احساس د شعر په قالب کې بیان کړي، دا کار هغه څوک تر سره کولای شي چې پر خپله مورنې ژبه باندې واکمن او مسلط وي، ښکلې، په زړه پورې موسیقایي کلمات او واژې وپیژني، او د تصویر پردازی، خیال پردازی د هنر په مفاهیمو، ځانګړنو او اصطلاحاتو او د وزن، قافیې، آهنګ، تون، تخیل، احساس او داسې د نورو اصطلاحاتو په پوهه بلد وي او ورسره آشنایي ولري. انسانان د ژبې په وسیله خپل عقاید، افکار، عواطف او احساسات او خپل پیغامونه خلکو ته بیانوي. ژبه باید سلیسه، روانه او خوږه وي. هر هنر ځانته خپله ژبه لري. شاعران هم لکه نور انسانان د خپل احساس او واقعي افکارو د بیانولو لپاره ژبې ته اړتیا لري، خو نه معمولي ژبې ته. شاعر بل هدف، مقصد او پیغام لري. شاعر ډیرو ښکلو او زړه وړونکو او زړه راکښوونکو پدیدو ته پاملرنه کوي او په خپل خیال او ذهن کې د دغو پدیدو ښکلي تصویرونه او انځورونه جوړوي او کوشش کوي چې دا احساسات، افکار او تصورات د لوستوونکو او اوریدونکو ذهن ته په ډیر هنرمندانه او مبتکرانه ډول ورسوي. دی هڅه کوي د ټولنې واقعیتونه په داسې ظرافت او لطافت توصیف کړي چې د اوریدونکو او لوستوونکو په ذهن کې یو روښانه او حقیقي تصویر او خیال ترسیم کړي.

هغه ژبه چې په کې هنري او انساني احساسات، عواطف او ښکلا پرته وي هغه د شعر ژبه ده، او هغه څه چې په دغه ژبه کې بیانیږي هغه یو ډیر عالي او په زړه پورې ادبي، هنري، علمي او انساني اثر دی چې تل پاتې ارزښت او مقام لري.

له نیکه مرغه زموږ په هیواد کې لیکوالانو، پوهانو او شاعرانو د ادب په تاریخ کې لکه ځلیدونکي ستوري د دنیا او دخپلې ټولنې د بیلا بیلو مسایلو، حوادثو او رنګارنګ پیښو او حالاتو په هکله خپله تګ لاره، احساسات او عواطف په بیلا بیلو ډولونو او ښکلونو په ډیر عالي او انساني توګه په خپلو

www.esalat.org

آثارو کې بيان کړې دي، چې د دوی آثار زموږ د هيواد لويه معنوي پانګه او بډايه شتمني ده. د دوی دا هلې ځلې او هڅې دقدر او ستاينې وړ دي.

يو له دغو درنو شخصيتونو څخه د پښتو ژبې خادم او د لرو بر پښتنو د اتحاد او اتفاق، ملي وحدت علمبردار ارواښاد کبير ستوری و، چې په خپلو با ارزښته آثارو يې زموږ د هيواد د پښتو ادب تاريخ روښانه او ژوندی ساتلی دی.

ارواښاد کبير ستوری د لعل محمد خان زوی دی. دی زموږ د هيواد هغه ځلانده ځيره ده چې په (١٣٢١) هجري شمسي کال کښې د کونړ ولايت دخاص کونړ په ولسوالی کې د تنر په کلي کې په يوه روحاني ادبي او فرهنګي کورنی کې زيږيدلی دی. دا د کونړ ولايت روښانه ستوری د کوچينوالی څخه د يو ځانګړې استعداداو ذکاوت خاوند و. ده خپلې ابتدايي زده کړې په خپل کلي کې سر ته رسولي دي، او ثانوي زده کړې يې د کابل په ښار کې د رحمان بابا په ليسه کې پای ته رسولي دي.

دی په (١٩٦٤) کال کې په افغانستان کې له دولت له خوا د لوړو زده کړو لپاره د جرمني هيواد ته ولاړو. ده په جرمني کې د فرانکفورت، کولن او ماربورګ په پوهنتونونو کې دخپل ذوق سره سم د (ساپوهنې) يا (ارواپوهنې) په څانګه کې چې د فلسفې، سياسي او ټولنيز پوهنې علوم هم ورسره مل وو، خپل عالي تحصيلاتو ته ادامه ورکړه او په دغه مسلک کې يې د ډکتورا ديپلوم تر لاسه کړ. ستوری صاحب د (١٩٧٥) ع کال راهيسې د د نړی د سا پوهنو د ټولنې غړی هم و.

ډاکتر کبير ستوری هغه مخکښ او نوښتګر ليکوال، تکړه شاعر، څيرونکې، ژورناليست، ساپوه، سياست پوه، ټولنيزپوه، سياسي او ملي مبارز مشر و، چې د ده پوهه، علم، فن، هنر او ملي او وطني احساس د ده د آثارو په رڼا کې څرګنديږي. د ده ادبي او قلمي هڅې او برياوې د پښتو ادب په ډګر کې نه هيريدونکې اونه ورکيدونکې دي.

ډاکتر کبير ستوری هغه نامتو ليکوال او پياوړی شاعر دی، چې د پښتو ژبې، پښتون او پښتنولې سره يې ژوره مينه درلوده. د ډاکتر کبير ستوري د ادبي او فرهنګي شخصيت په هکله زموږ د هيواد نامتو ليکوالانو، شاعرانو خپلې څيرنې کړې دي او په خپل وخت سره يې د ده د آثارو په هکله زياتې ليکنې هم کړې دي چې د دوی ليکنې د قدر او ستاينې وړ دي، خو هغه مينه چې زه د ډاکتر صاحب کبير ستوري د علمي ادبي، سياسي او ملي شخصيت په هکله لرم او د ده اثار مې لوستلي دي، دی ته وهڅيدم په داسي يو وخت کې چې په جرمني کې د فرانکفورت په شهر کې د قامي مبارزينو د ياد غونډه او د پښتونخوا جشن لمانځل کيږي د دغې پياوړي ليکوال، وتلي شاعر او نيک نامه سياسي او ملي مبارز دشخصيت په هکله يو څو کرښې وليکم او خپلو ګرانو او درنو لوستونکواو دپښتو ادب مينه والو ته يې ډالی کړم.

ډاکتر کبیر ستوري په (۱۹۶۵) ع کال کې په جرمني کې (دافغاني محصلینود ټولنې) په جوړولو کې د خپلو ملګرو سره یو ځای فعاله ونډه لرله. په (۱۹۷۲) ع کال کې کله چې
(د پښتنو او بلوڅو دملي آزادۍ ټولنه) جوړېده ستوري صاحب د دغې ټولنې په جوړېدو کې فعاله برخه درلوده.
ډاکتر کبیر ستوری په (۱۹۷۳) ع کال کې په جرمني کې دآلمان غږ راډیوپه پښتو څانګه کې مقرر شواو دژوند تر پایه پورې په دغه راډیو کې دپښتو ژبې د ویاند په توګه نطاقي کوله.
ډاکتر کبیر ستوري هغه پاکه، سپېڅلي او ژوره مینه چې دپښتو ژبې، پښتو او پښونولي سره لرله او د نامتو او پیاوړي لیکوالانو او شاعرانو لکه پاچاخان او اجمل خټک دآثارو په رڼا کې دپښتنو د اتحاد او اتفاق یوالي او ملي وحدت په هکله ورسره یوروښانه او مترقي فکر پیدا شواو دې ته وهڅیده چې باید یو سیاسي ګوند جوړ کړي، همدا و چې په (۱۹۷۲) ع کال کې یې په جرمني کې دخپلو ملګرو سره دپښتون سوسیال دیموکراتیک ګوندجوړ کړاود دغې ګوندسیاسي مشري یې پر غاړه وه. په (۱۹۸۵) ع کال کې یې د پښتنو د کلتور، رسوم او عنعناتو، ادب او فرهنګ د څرګندولو په هکله د پښتنوکلتوري ټولنه جوړه کړه. په (۱۹۹۳) ع کال کې یې دپښتون کور په نامه ټولنه جوړه کړه. په (۱۹۹۸) ع کال کې یې په پېښور کې دپښتونخوا د پوهنې دیره جوړه کړه. او همداسې یې په کونړ کې د پښتو ادبي او هنري ټولنه په (۲۰۰۳) کال کې جوړه کړه. دا ټولې ټولنې تر اوسه پورې د ستوري صاحب د ملګرو له خوا په فعاله توګه خپلو چارو ته ادامه ورکوي.
ډاکتر کبیر ستوری چې یو تکړه ژورنالیست اووتلې شاعراو ادیب و د مطبوعاتو او ژورنالیزم په چارو کې یې دا فعالیتونه تر سره کړي دي:
په (۱۹۷۲) ع کال کې یې دپښتو ادب د ودې، پالنې او پرمختګ لپاره د سپرغۍ په نامه میاشتنۍ مجله په جرمني کې خپره کړه. په (۱۹۷۶) ع کال کې یې د ولس غږ په نامه میاشتنۍ مجله په جرمني کې خپره کړه. په (۱۹۸۵) ع کال کې یې د لمبه په نامه میاشتنۍ مجله په جرمني کې خپره کړه. په (۱۹۸۶) ع کال کې یې د خیبر وږمه په نامه میاشتنۍ مجله په جرمني کې خپره کړه. او په (۱۹۸۶) ع کال کې یې د پښتونخوا په نامه مجله له جرمني څخه خپره کړه. د یادونې وړ ګڼم چې اوس محال د ستوري صاحب په نامه یوه مجله د کنړ دسیمې څخه هم خپرېږي.
دا یو څرګند حقیقت دی چې د ډاکتر کبیر ستوري دا ټولې ملي، سیاسي ادبي او فرهنګي هلې ځلې او د ده خدمتونه دمطبوعاتو او ژورنالیزم په عرصه کې نه هیرېدونکې، او نه ورکیدونکې دي او د ده نوم دیو مخکښ ادیب، پیاوړي شاعر اوزړه ور او نوښتګر ژورنالیست په توګه زموږ د هیواد دپښتو په تاریخ کې ځلانده او تل پاتې دی او د ده علمي، ادبي، فرهنګي، اجتماعي، سیاسي او ملي شخصیت د قدر او ستاینې وړ دی.

www.esalat.org

اروابناد کبیر ستوری دپنځو زامنو او دوولونو پلار و، چې اوس محال په جرمني کې میشت دي او دخپل پلار په لاره روان دي. د ده څلور زامن په جرمني کې په لوړو زده کړو بوخت دي.
- ډاکتر کبیر ستوري په خپلو شعرونو کې دڅښتن تعالی سره، د انسان او انساني کرامت سره خپله مینه داسې بیانوي. د بیلګې په توګه د ده دا بیتونه ګورو:

د لوی خدای په نوم ښنونکی او مهربان دی
په عزت، ذلت، قادر د هر انسان دی
چې ځوک وغواړي په یو ساعت کي باچا کړي
چې ځوک وغورځی ء دتخت ځني روان دی
نه دچا ځني پیدا نه د چا پلار دی
دی یوازي خو محتاج ورته جهان دی
خدای دهر چا په ښه، بد عمل خبر دی
خو یې واک د ښه او بد عمل د ځان دی
خدای په هر وخت او په هر ځای کې حاضر دی
که دا ځمکه ده که ستوری د اسمان دی
او یا وایې:
محتاج کله د انسان د زیار زحمت دی
بې نیازه دی د خدای بې شان قدرت دی
عبادت دمیني نوم دی دا منمه
نیکمرغي د انسان مینه محبت دی
عبادت زاهده ستا سوال او زاري ده
په ما هسې د خدای ډیر زیات شفقت دی
او یا وایې:
د سرو سره چې کیني، سری کیږي
هر مجلس لري تاثیر که ځوک پوهیږي
چې خدای چا لره احساس د میني ورکړي
نو یې زړه بیا د جانانه، نه صبریږي
زه دنیا کې ته عقبا کې جانان غواړي
شیخه ستا او زما کلی کله کیږي

www.esalat.org

زما عشق حقيقي، ستا مجازي دی

حقيقت کله مجاز سره سمېږي

د عشق کار کي د هر چا ده بېله برخه

د چا ستوری دی تياره، د چا ځلېږي

او يا وايي:

راته پاتي له لويانودا پيغام دی

چي دبل په درناوي کي دروند مقام دی

که نظر دي خپل اوچت ساتي نو پوه شه

چي لازم دبل نظر ته احترام دی

چي دبل په سپکاوي کي درنښت غواړي

دروند به نه شي تل په دې کار کی ناکام دی

چي د بل د غلامۍ سوچ لري سرکي

ازاد نه دی، د ده هم ذهن غلام دی

- د ډاکتر کبير ستوري په آثارو کي د ملي احساساتو سره، دوطن سره، دپښتواو پښتونولي سره، دپښتو ژبي اودپښتنو ټبر سره، د پښتني پت، عزت، ننګ، اوحيثيت سره ډېره ژوره اوحقيقي مينه او اخلاص ځرګند شوي دی. د بېلګي په توګه دا بيتونه ګورو:

پښتانه يو دي يو تاريخ او يو کلچر لري

يوه يي ژبه ننګ پښتو يي هر ټبر لري

د غيرت نښي د مشرانو په شملو کي شته دی

پښتو کوي پښتونولي د قام بچو کي شته دی

او يا وايي:

دا پښتنه خاوره پښتنو موږ نه پښتو غواړي

ننګ غواړي غيرت غواړي ميرانه د نيکو غواړي

بيا د خيبر سر کي جګول سر دشملو غواړي

نور د خوشال خان توره تيره په شرنګيدو غواړي

او يا وايي:

پښتو دېت، ښېګړې، توري او وروری نوم دی

په پټ کې ژوند، په پټ کې ناسته ودريدل به کوې
ښيګڼه ژوند د پښتنو کې تولنيز قانون دی
ښيګڼه هر چيرې بې تمې بې بدل به کوې
او يا وايي:
خدای مين د غيرتمنو په غيرت دی
هر يو کار د غيرتمنو عبادت دی
په وطن او په خپل قام چې غيرت کاندي
ستوری وايي چې په برخه يې جنت دی
او يا وايي:
ګناه دبل چا نه ده دا زموږ خپله ګناه ده
پښتو، پښتونولی ته اړولي چې مو شاه ده
پښتو تش ژبه نه ده دا دژوند ښکلی قانون دی
پښتو او دپښتون تورو کې ښه لويه مانا ده
او يا وايي:
چې هم تهذيب دی هم خوږه د ګړيدو ژبه ده
ملګرو غوږ شی دا زموږ خپله پښتو ژبه ده
دفن ښکلا ده د هنر په ګلدرو کې اوسي
دروح غذا ده د سندرو او نغمو ژبه ده
او يا وايي:
پاخيږه پاخيږه دې کاروان سره مل کيږو موږ
نور خيالونه پوچ دي د پښتو پښتونولی وخت دی
پريږده تربګنی داتفاق او وروروليی وخت دی
پاخيږه پښتونه نن د قام او قوملی وخت دی
او يا وايي:
د ميني دوطن نه مې زړه ځان نه بيلوي
لګيا دی خپل ټوټې ټوټې وطن راټولوي
ټوټې چې يو ځای نه کړي هومره نه کيني ارام
دسر او مال په بيه دا ټوټې کوشيروي
چې مينه دوطن کې مې زړه وريت شو پوخ سر تير شو

روان دی سربازی ته ځان وطن نه ځاروي

په مینه د وطن کې ستوری و خاته اسمان ته

وګورو په غلیم له اسمان کاڼي وروي

- ډاکتر کبیر ستوری په خپلوشعرونوکي مینه اومحبت، ښکلا، رازونیاز، حسن و جمال سوز و ګداز او د طبیعت د مناظرو ښکلا په ډیرو رنګینو تصویرونو، خیالونو او سمبولونو کې داسې ترسیموي. دبیلګې په توګه دا بیتونه ګورو:

تا چې د سرو شونډو قلنګ کې بهانې پریښودې

زه ستا ملنګ شوم ما د ټول چم مېخانې پریښودې

ستا د اوربل لاندې مې جوړه کړه ډېره دمینې

د عشق نشو کې مې د مینې خزانې پریښودې

مجنون لیلا نه لاس په سر شو چې یې ته ولیدې

بلبل هم بڼ کې دګلونو ترانې پریښودې

چې ستا د سپین مخ په رڼا باندې یې زړه بابلودو

پتنګ د شمعې سره نورې یارانې پریښودې

چې ستا د تورو زلفو سیوری یې په زیره پریوت

شیخ په ثنا کې دې دحورو افسانې پریښودې

او یا وایي:

تا چې ماته په ناز ناز راوکتلو

ما خپل زړه دا ستا په سترګو وبابللو

ستا د سترګو تور زما دسترګو تور شو

زما خوښه شوه ستا خوښه د لیدلو

او یا وایي:

باغونه د ګلونو د کوځو نه دي جوړشوي

ولاړ دي سلامی ته او د جانان لار راته ښایي

څه ښکلي تماشه ده د رنګونو دګلونو

دا زړه پکې د ځنو د اوربل ګلونه ستایي

او یا وایي:

www.esalat.org

د انسان فکر او خيال که هر څو دنګ دی
ستا دحسن د تصوير د پاره تنګ دی
ستا ښکلا د خيال ورشو کې نه ځايږي
سوز د ميني کي دې پروت خمار د بنګ دی
ستا د ميني په مستي کي مې زړه ځوان شو
زما وينه کې دا ستا د شونډو رنګ دی
او يا وايي:
څومره مزه چې ساقي ستا په شونډو سرو کي شته دی
دومره مزه کله دميو په پيالو کې شته دی
ښکلا پرست يم ساقي تش دا ستا ليدو ته درځم
د ښکلا زور دې د موسکا مستو شيبو کې شته
ماته دشونډو شربت راکه پيماني نه غواړم
عشق کي ثواب د مينې تندې ماتوو کې شته دی
ميخانه وتړه راځه د ګودر غاړې ته ځو
نشه دميو خو کونړ د سيند اوبو کې شته دی
هلته حجرې د پښتنو په ټنګ ټکور تودې دي
دقام دميني جوش د ستوري ترانو کې شته دی
او يا وايي:
خوشبويي چې دې د زلفو راخوره شوه
د ګلونو خوشبويي صدقه شوه
بلبلان به زياتي څه کوي په باغ کې
بس دا ستا ښنو اوربل کي يې ديره شوه
پتنګانو سر ته هم دې الله خير کړي
چې ډيوه د ښکلي مخ دې وربښکاره شوه
او يا وايي:
ماته چې ګودر په غاړه غلې په خندا شوله
مخ کې يې دميني محبت سرخي پيدا شوله
زه يې دسور ټيک او د شين خال په ننداره ومه
خلکو راکتلي پته مينه مې رسوا شوله

www.esalat.org

ناز او ادا ګاني د ښکلا سره ملګرې وي

هر یوه ادا یې د ښکلا سره ښکلا شوله

زور یې د ځوانی د مینې جوش راپارولی و

ځوانه یې مستي وه په مستی کې په نڅا شوله

ستوري چې راوختل د شپې تیارې خورې شولې

خوا ته شوه راوړاندې په ذکات د خولې رضا شوله

او یا وایي:

موسم د ګلونو، پسرلی دی، نوبهار دی

راشه ای جانانه! زړه مې تاته انتظار دی

مستي دي بلبلې، مستي مستي کډاګاني کړي

مست به دي خیالونه شي، مست شوی ټول ګلزار دی

خوند به د ګډا واخلې د ګل به ننداره وکړې

دا موسم خو ټولو موسمونو کې سردار دی

هره خوا رنګونه دګلونو زړه راښکونکي دي

درونډ نظر ګلونو ته خو خامخا پکار دی

ستوري سره جام به د وطن په نامه پورته کړی

ټول محفل خمار دی ساقي هم خپله خمار دی

- ستوری صاحب په خپلو شعرونو کې خپل احساسات او افکار دغریبانو، مسکینانو، مظلومانو او یتیمانو په هکله او د دوی رنځونه اوغمونه، لوږه اوتنده او د ټولنیزو ناخوالي، کړاوونه او ناميدې داسې انعکاسوي. د بیلګې په توګه دا بیتونه ګورو:

د ژوند هره مرحله کې توانا او قهرمان شه

د سرتیرو قافله کې ننګیالی، غښتلی ځوان شه

زوړ جهان د خاپناو د ظلمونوفساتونو

ته تباه محوه نابودکړه، خپله ته نوی جهان شه

او یا وایي:

د بل زړه ازرول چاره خطا ده

خو ازار د مور او پلار لویه ګناه ده

www.esalat.org

چي ازار دمور اوپلار وي څوک وهلی
دبخت ستوری يې تورتم وي دا رښتيا ده
او يا وايي:
جانانه نورې دا سپېرې ورځې دغم تېرېږي
د خوشحالی ورځې زمونږ په چم تېرېږي
بيا به په وچو شونډو وار د خنداګانو راشي
په رقيبانو زلزله به په هر دم تېرېږي
ژوند يو څو ورځې په دنيا دی ابدي خو نه دی
بده ده دا څه په ښادی څه په ماتم تېرېږي
منم احساس د خوشحالی د غم وجود نه پيدا
خو که غم کې کم خوشحالي ډېره وي ژوند سم تېرېږي
او يا وايي:
په ملي غورځنګ زما ملي قيام دی
استعمار او استثمارسره مې جنګ دی
غم او درد راسره تل چي دخپل قام دی
ديښتون په آزادۍ باندې مې ننګ دی
د ملي وحدت ژوندی مبارز يم
زه سکروټه د خوارانومفکوره يم

- ستوری صاحب په خپلو شعرونو کې داتحاد، اتفاق او ورورولي، ملي هويت، يووالي او ملي وحدت او د ملي احساس روزل، دآزادۍ او دموکراسۍ، د انصاف او عدالت، دخلکو برابر حقوق او ورورګلوي، دسولي او سوکالي مفکورې، په ډېر ښکلي سمبولونو، تصويرونو او خيالونو کي داسي ترسيموي. د بيلګې په توګه دا بيتونه ګورو:

جرګه ځم کور په کور دقام زلميان راټولوم
ملي وحدت دپاره عاشقان راټولوم
پګړی دننګ غيرت چي د نيکونوپه سر کړي
بچي د ميرويس خان او خوشال خان راټولوم
خدمت کي چي دقام اود وطن نه ستړي کيږي
د تورې او ميراني جوړ ځوانان راټولوم

www.esalat.org

او يا وايي:

د سوله او ورورولۍ که مي سر لاړ شي، لاړ دې شي

د سوچ په ازادۍ که مي سر لاړ شي، لاړ دې شي

ازاد يم پيدا شوی ازادۍ باندې مې ننګ دی

دقام په خپلواکۍ که مي سر لاړ شي، لاړ دې شي

او يا وايي:

جنډه د سولې جګوي د باچا خان بچي دي

ورورولي غواړي غلامي د چا منلی نه شي

د ستورې زړه کې اتفاق دپښتنو ارمان دی

بې اتفاقه قوم منزل ته رسيدلی نه شي

او يا وايي:

څوک خپل وطن خرڅوي، قام خرڅوي پيسې ټولوي

زه دخپل قام او وطن نه تيريدلی نه شم

څوک استعمار ته نوکري کړي خپل ولس لوټوي

زه استعمار تورې تيارې هډو منلی نه شم

څوک کړي لاره د خپل ځان د آبادۍخوښه

ستوري کړه لاره د ټول قام دسوکالۍ خوښه

او يا وايي:

آزادي د نظر نه ده چې دې خپل نظر آزاد وي

آزادي د نظر دا ده چې بل نظر آزاد وي

که غريب وي که باچا وي حق يې يو شانته وي

ستورى وايي د هوښيار هم د پا ګل نظر آزاد وي

او يا وايي:

د انسانيت جذبه مې زړه کې د انسان خوښيږي

د ژمي شپه زما په غيږ کې د جانان خوښيږي

چې انسانان پکې په ژوند کې نوښتونه وکړي

هم مې دفکر آزادي هم دبيان خوښيږي

او يا وايي:

انسانيت له انسانانو نه بېليږي

www.esalat.org

دي دنيا کي د ځنګل قانون چليږي

ساتندوی چي د حقوقو دانسان و

اوس يي خپله دا حقوق په لاس ماتيږي

توپير ورک د مدنيت او د وحشت شو

مدنيت ببرته وحشت باندې بدليږي

انصاف وتی دی د لفظ دانصاف نه

عدالت دی ناچل شوی، نه چليږي

بي منطقه شو منطق فلسفه پوچ شوه

خدای دي خير کړي ستوری نور به څه پيښيږي

او يا وايي:

زموږ ملک د ګڼ قامونوشريک کور دی

پدي ملک کي هر يو قام د بل قام ورور دی

دخپل شمېر په کچ حق هر قام ته په کار دی

هسي نه چي ديو تش دبل ډک شکور دی

- ستوری صاحب په خپلو شعرونو کي د توري اودقلم فضيلت او دکلام عفت، دعلم، پوهي، منطق او ادب لوړ خيالونه او افکار په ډېر عالمانه او ظريفانه توګه داسي بيان کړي دي، چي هر عالم او د پوهي او ادب مينه وال په کښي د خپل ضرورت سره سم خپل هدف او مقصد لټولي شي. د بيلګي په توګه دا بيتونه ګورو:

دفن په ژبه سربازي د پښتونخوا واخله

توره قلم دي د خوشال خټک بابا واخله

دسربازی ډګر ته ځي چي چېري تری نه شي

شربت د شونډو پريمانه خامخا واخله

مينه دقام کي د همزولو ځني پاتي نه شي

د قاموليۍ بيرغ په ډاګه برملا واخله

او يا وايي:

چي ځان دچا نه ورک شي نو خپل ځان نه پيژني

کېله تري څه پکار ده چي جهان نه پيژني

www.esalat.org

بې پوهې ځان پوهان کړي او د ټول جهان باچا شي

د ځان نه جګ باچا او يا پوهان نه پېژني

بې توله کېني تول د ارزښتونو د جهان کړي

توپير د شنو باغونواو بيابان نه پېژني

او يا وايي:

كه ادب، ښايست، هنرشريک کړي کور

او ديوهې په اوږه يې کړي ښوک سور

خوځولې پرګنې شي ستورى وايي

اتفاق او په وحدت كې پروت دى زور

او يا وايي:

نفاق اوتربګني به پخپل منځ كې ورکوو

كه لوړې جګې ښوکې ته د ژوند ځان رسوو

قامونه په ادب او په پوهنې پر مخ تللي

ډېوه به د پوهنې ځان او قام ته بلوو

او يا وايي:

ما چې وکتل دې ګرد چاپېر جهان ته

هيڅوک نه وايي کم عقل خپله ځان ته

کم عقلونه ته هوښيار کم عقل ښکاري

خداى دې ور نه کړي کم عقل دوست انسان ته

او يا وايي:

خپلې پوهې برابر سوچ د انسان وي

د لوړ سوچ دخاوندانو لوړ ارمان دي

ناپوهى نه غټ دښمن د انسان نشته

ناپوهانو ته جهان پېژندل ګران وي

تل د ځان په هينداره كې جهان ګوري

دخپل سوچ په اندازه يې تنګ جهان وي

ځان جهان په آينه کې پوهان ويني

رسولى ځان تر ستورو د اسمان وي

او يا وايي:

www.esalat.org

ادب ځان پرست نه دی چې تش خپل خدمت کوي

تولني د خدمت نه ادب ځان نه بېلوي

ادب، ادب دپاره هسې تور دی پرې لګېږي

د عقل او منطق اصول د تور مخ توروي

قانون کې د منطق نه شته دی دا کله کېدای شي

هدف او وسیله چې د ادب نه جوړوي

او یا وایي:

پتمن ژوند ګوره فولاد په توره نه شي

قلم واخله دقلم په توره بنه شي

دفولاد توره که هر څومره تېره شي

یابه وژني یا به مري نو دا به څه شي

په زور کلي کله کېږي دا متل دی

اخري ناچار د سولې په لار تله شي

او یا وایي:

مطلب پروت دی د لفظونو په مانا کې

دانسان د پوهاوې هره ویناکې

په تکړه قلم لیکنه کړه لیکواله

چې لیکنه دې تل پاتې شي دنیا کې

چې دخپل غیرت تاریخ پکې خوندي کړې

پاتې را نه شي په ننګ او په وفا کې

د تکړه قلم لیکنه نه ورانېږي

که یې ومینځې هر څو یې بنه صفا کې

د تکړه قلم رنګ پوخ وي نه خړیږي

ستوري ویل پوخ وي د ژوند په پرمختیا کې

- ستوری صاحب په خپلو شعرونو کې د تولني وده او پرمختګ، سمسورتیا او پراختیا او د تولنیزو روابطو مناسبات د دنیا په تضادونو کې داسې ترسیموي. د بیلګې په توګه دا بیتونه ګورو:

د تضادو جوړه شوې دا دنیا

د رڼا وجود تورتم نه دی پیدا

www.esalat.org

تياري نښه د رڼا دموجوديت ده

که تورتم نه وي، نو نه به وي رڼا

که غم نه وي خوشحالي به چېرې نه وي

خوشحالي شته ځکه غم شته دی اشنا

غم پسې د خوشحالۍ راتګ جبري دی

داسي شپه نشته چي نه يې شته سبا

دا تياري د ژوند ورکېږي سبا کېږي

د سبا ستورى راخېژي خامخا

او يا وايي:

خداېږو تولنه د انسان د تضادونو کور دی

په هر يو ګوند، ډله ټپله کي جدا سودا ده

څوک دخپل ځان څوک د مزدور او څوک د قام غم خوري

چا سره زړه کي د انسان د خوشحالتيا سودا ده

څوک د ژوندون جرړې وباسي انسانان وژني

د چا دماغ کي د ژوندون د پر مختيا سودا ده

او يا وايي:

قانون د ضد وايي په هر شي کي تضادونه شته

اصلي فرعي د دې تضادو دوه قسمونه ليکم

قانون د نفي وايي چي نوی تل د زوړ ځای نيسي

ځکه د نوي تکامل زوړ زوالونه ليکم

قانون د ټوپ وايي په يو واري کيفيت شي بدل

خو دی بدلون ته د کمي معين حدونه ليکم

- د موسيقی هنر د نورو هنرونو تر ښکنګ هغه هنر دی چي انسان ورته ضرورت لري. دموسيقی او د شعرهنر هغه فرهنګي شتمنی دي، چي ديو بل سره تړاو لري. د موسيقی هنر دشعر د هنر په وسيله ښکلي خوند او رنګ پيدا کوي. دستوري صاحب شعرونه خپل ځانګړې موسيقيت لري، خو کله چي د ده شعرونه د هنرمندانو او سندرغاړو په خوږو آوازونو، طرزونو او کمپوزونو کي د موسيقي په پردو کي مينه والو ته وړاندي کيږي نو ښکلا او خوند يې لاپسې زياتيږي.

www.esalat.org

دستوري صاحب شعرونه او خوږې تراني زموږ دهیواد یوشمیر تکړه هنرمندانو او سندرغاړوپه خپلو خوږو او ښکلي غږونو کې د رادیوتلویزیون له طریقه او دخلکو په ودونو او محافلوکې دساز په څپو کې په ډیرو ښکلواو خوندوروکمپوزونو او طرزونو کې دخلکو غوږونو ته رسولي دي، چې د دوی دا فعالیتونه د هنر او ادب په ګلبڼ کښې دیوره قدر اوستاینې وړ دي.

هغه محترموهنرمندانو او سندرغاړو، چې دستوري صاحب شعرونه یې په ښکلو او خوندورو کمپوزونو او طرزونوکې جوړ کړي دي دا دي:

استاد رحیم غمزده، استادخیال محمد، استاد یارمحمدعلي زی، استاد هدایت الله استاد طلا محمد، استاد ګلزار علم، ماسټر علي حیدر، رضوان منور اوشاه ځوان منور، بریالی صمدي، ماسټر رحیم ګل بنګښ، بریالی ولي، نازیه اقبال، وحید احمد بابو او اکبر خان، حشمت سحر، شهنشاه پاچا، شبنم، زلمی غمزده، سیداګل مینا، انور خیال، ماشوخیل مطرب، اشرف ګلزار، زاهد الله اپریدي، ګلریز تبسم اوخالدمالک، ګل جان صادق، غازي او نورالرحمن، فروغ زیب نوشیروي، معشوق سلطان او سردار علي بلوڅي او داسې نورو. . . . . . . . . . . . . . . .

د ستوري صاحب هغه شعرونه چې پورتنیو هنرمندانو او سندرغاړو ویلي دي څو نمونې یې دلته یادوو. دبیلګې په توګه دابیتونه ګورو:

جرګه ځم کور په کور دقام زلمیان راټولوم
ملي وحدت دپاره عاشقان راټولوم

او یا وایي:

که د ژوند خبرې هر څومره ترخې شي
چې دا دستا د شونډورنګ واخلي خوږې شي

او یا وایي:

زه په حجرو کې یم لوی شوی ټنګ ټکور خوښوم
د فن په غیږ کې دادب اوسیاست شور خوښوم

او یا وایي:

که ګلان وکړي د ژوند د سردرو په خوکو
زه به یې سیل لره درځم د جګو غرو په څوکو

او یا وایي:

څوک چې په دار د تورو زلفو ځنګیدلی نه شي
هغه دمیني په رازونوپوهیدلی نه شي

او يا وايي:

د گلاب دگل د پاڼو نه ښايسته ده

بختور يم چې مې وينه پښتنه ده

او يا وايي:

ساقي راځه زموږ په چم کې ميخانه جوړه کړه

يوه چنه پکې د مينې مستانه جوړه کړه

او يا وايي:

دا ده يورپي پېغله پرې يې ږده چې څه کوي

قيد پابندي نه مني هر څه په خپل زړه کوي

او يا وايي:

نه ماتوي تنده د شرابو پيالې مه راوړه

لاړ شه ساقي لاړ شه د چينې يخې اوبه راوړه

او يا وايي:

فلسفې به د دنيا راټولومه

د پښتو او پښتونوالي يې ځارومه

او يا وايي:

غم به د ټولو پښتنو کوو

موږ په پښتو خپله پښتو کوو

او يا وايي:

پسرلى دگل ځواني ده يو څو ورځې وي تېرېږي

زه هغه پسرلى غواړم چې تل ځوان وي نه زړېږي

او يا وايي:

تا چې د سرو شونډو قلنګ کې بهانې پرېښودې

زه ستا ملنګ شوم ما د ټول چم مېخانې پرېښودې

او يا وايي:

چې دې شونډې زما شونډو ته نږدې شوې

رانه پاتې پيمانې د مېخانې شوې

ستا د سرو شونډو په ميو چې شوم روږدى

نوى ژوند، نوى رباب، نوې نغمې شوې

www.esalat.org

او يا وايي:

په نيمه شپه راپاڅيده نيازبينه په بهانه

ديدن ته ديار لاړه نازنينه په بهانه

او يا وايي:

لکه چي زړه دې زما زړه سره سلا کړې ده

زما په زړه چي وه هغه خبره تا کړې ده

او يا وايي:

سيتار د ميني غږوم، نوې دنيا لپاره

قانون دميني جوړومه دسبا لپاره

او يا وايي:

تېرې د ژمې اوږدې شپې شولې

بيا پسرلې راغی ونې شنې شولې

رنګ مې ستا دشونډو ګل کې وليد

مستی مې دميني ولولې شولې

او يا وايي:

په تورو څنو يې پراته و پرديسي ګردونه

په خوله يې هيڅ نه ويل سترګو يې ويل حالونه

او يا وايي:

رښتيا چي ملکه يې درنګونو د ښکلا

ښکلا ته دې سجده کړي ښکلاګانې د دنيا

ښايست دې د مينو د زړه مينه تودوي

د سرو ګلونو ځانګې ته په برخه يې د چا

د سر په بيه اخلم ستا دميني افتخار

باقي به څومره نور شم راته ووايه صفا

دا ستورى کړي پوښتنه درنه غواړي اجازه

دا ته دګل په رنګ يې؟ که ګل رنګ اخيستى ستا؟

او يا وايي:

ګلبڼ وی د بلبلو بس يوازې زه او ته وی

دا ستا د تورو زلفود اوربل لاندې مې شپه وی

www.esalat.org

او داسي نور شعرونه. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . .

د دغو سندرو د اوریدو او لیدولپاره دا پتې وګورئ:

http://www. kabirstori. com/?page=TangTakor&c=TangTakor_Videos

http://kabirstori. com/music/

په رښتیا سره که دي ډاکتر کبیر ستوري شعرونه ته په غور سره پاملرنه وشي، د ده شعرونه ډیر خواږه، سلیس، روان، په زړه پوري او د لوړو او ژورو هنري، ادبي او علمي مطالبواومفاهیمو نه ډک دي، همدا وجه ده چې د ده علمي او تحقیقي، ادبي او هنري آثار د هر چا په زړه کي یې ځانته ځای جوړ کړي دی، او هر څوک د ده د آثارونه د خپل ذوق په اندازه خوند او ګټه اخلي.

ستوری صاحب د لوړ، نرم او ساده مزاج، دنیکواوصافو، دعالي اخلاقواو انساني خصایلو درلوند شخصیت و. ده لږ خبرې کولې او د نورو خلکو نه به یې ډیرې خبرې اوریدلې. د ده خبرې رینتیني، خوږې اودرنې وې، او په کلام کې یې هر وخت د انسان او انساني کرامت حرمت څرګندیدو، اودخپل قام او ژبې سره یې ژوره مینه لرله. د ده په ذهن کې د وروروګلوې، اتحاد او اتفاق، ملي وحدت اودسولې اوسوکالي مرام له ورایه معلومیده. ستوری صاحب دعلم اوادب دپښتواو پښتونولي دقام او دژبې دریښتیني خدمتګار په توګه روښانه او ځلانده سمبول و، او په دې لاره کې هر ډول قرباني ته حاضر و.

لنډه دا چې ډاکتر کبیر ستوری زموږ د هیواد څو اړخیزه شخصیت و، چې د ده ادبي، فرهنګي، اجتماعي، سیاسي اوملي شخصیت دپښتو ادب په دګرکي ځانګړې ځای او مقام لرې. د ده د منظوم او منثور آثارو نه معلومیږي چې دی یو پوخ شاعر، وتلي لیکوال، تکړه ژورنالیست، لوی سیاسي اوملي مبارز، مفکر او فلسفي شخصیت و، چې دده نوم دده هنر، د ده فن او د ده آثار به زموږ دادبیاتو په تاریخ کې د تل لپاره ژوندی وي او خلک او په ځانګړي توګه زموږ د ادب مینه وال به د ده په نوم ویاړي او دده هلې زموږ

(شعري ټولګه)، ژوندي خیالونه (شعري ټولکه)، سندریز پیغام (شعري ټولکه)، خوږې مسرې (شعري ټولګه)، دقلم توره (شعري ټولګه)، پښتونخوا مجله، ویره، ژبساپوهنه، دهوښیارتیا تله،، د ویرې تله، د هوښیارتیا د کلتوري بنو تله، دهوښیارتیا کلتوري بې پلوه تله، د پیداښتي بنود هوښیارتیا تله، او داسي نورآثار.

د يادوني وړ بولم چې ستوری صاحب د سايکالوجی ډاکتر و. دی هغه فلسفي، علمي، ټولنيزپوه، مفکر، عالم او مسلکي ليکوال و، چې په سايکالوجی کې يې په پښتو ژبه يو شمير رسالې او بشپړ کتاب چې د (ويره) په نوم ياديږي ليکلی دی. د ده دا علمي، مسلکي، تحقيقي او ارزښتمنده فعاليتونه د نورو فعاليتونو تر څنګ د پښتو ژبې د علمي کيدو په لور د قدر او ستاينې وړ دي.

ستوري صاحب ځلې او کارنامي به ستايي او د قدر په سترګه به ورته ګوري.

د ده چاپي منظوم او منثور آثار دا دي:

سکروټه په بيلا بيلو اخبارونو، ورځپاڼو، مجلو او انټرنيټي سايټونو کې په مختلفو وختونو کې يو شمير مقالې ليکلې او د مختلفو مرکه کوونکو سره يې مرکې هم کړې دي. په لنډه توګه د ده د مقالې او ليکنې عنوانونه دا دي:

- پوهنيزې ليکنې
- ادبي ليکنې
- سياسي ليکنې
- څيړنيزې ليکنې
- د ستوري ليکونه
- په نورو ژبو ليکنې
- د ستوري مرکې

اروابناد کبير ستوری په (۲۰۰۶) م کال کې د اپريل په خلورمه نيټه په جرمني کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې، او د کونړ ولايت په خپله پلرنی هديره کې په ډير درنښت سره چې يو شمېر سياستوالو، پوهانو، ليکوالانو، شاعرانو او د ستوري صاحب په زرګونو مينه والو هلته اشتراک کړی وو، خاورو ته وسپارل شو.

د ښښتن تعالی څخه ده ته د فردوس جنت غواړم، د ده آثار دې تل تر تله ژوندي او ښيرازه وي.

په ډير درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود

www.esalat.org